شریعت
SHARIAT WEEKLY

اوونیزه

په اوونی کې دوه ځله خپریږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

پنځم کال دوه دیرشمه گڼه پرله پسې(۳۱۹)چهارشنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د محرم الحرام (۲۸)د۱۳۷۹هـ ش کال د غوایی (۱٤)د۲۰۰۰میلادي کال د مې (۳)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) دیر نژدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

د رياست الوزرا محترم مرستيال :

د اسلامي امارت د پروگرامونو عملي كيدل زمونږ د سوكالي ضمانت كوي

د رياست الوزرا مرستيال محترم مولوي عبدالكبير پرون له غرمي مخكې د خپل كار په دفتر كې د لوگر د والي محترم مولوي ضيا الرحمن مدني او د ميدان وردگ والي محترم مولوي شمس الدين سره په جلا جلا توگه وكتل.

د رياست الوزرا مطبوعاتي دفتر د باختر اطلاعاتي آژانس ته خبر وركړ لومړي محترمو واليانو په خپلو ولايتونو كې د كار د بهير په اړه رپوټونه د رياست الوزرا محترم مرستيال ته وړاندې كړل .

وروسته د رياست الوزرا اقتصادي مرستيال محترم مولوي عبدالكبير د هغوي د رپوټونو د اوريدلو او د مثبتې ځيرنې نه وروسته د خبرو په ترڅ كې وويل د افغانستان د اسلامي امارت د موخو او پروگرامونو پلي كيدل او عملي كول د افغانستان د خلكو د نيك مرغي او سوكالي ضامن دي. د افغانستان مسلمانو خلكو د دوو لسيزو په ترڅ كې زيات كړاوونه او ستونزي زغملي او زيانمن شويدي اوهغې جگړې نه د راپيدا شويو تيونو د جورېدو په خاطر د امارتي ماموريتو په تيره بيا د واليانو مسووليت چې د خلكو په منځ كې په سيمو كې كار كوي دروند دي او لازم دي د خلكو د ستونزو په لرى ٤ مخ

به سلسله تشدید مخالفت ها میان مخالفین :

مسعود محافظین شخصي خود را از اعضاي فامیلش انتخاب نمود

جلسات مهم میان قوماندانان مخالفین در جا هاي مختلف داير گرديد

رباني از تشكيل جلسه با مسعود، دوستم و مالك امتناع ورزيد

قرار گزارشات موثقي كه به هفته نامه شريعت مواصلت ورزيده گفته مي شود كه اختلافات ميان كادر هاي فرماندهي مخالفين شدت يافته و هر كدام از قوماندانان جبهه باغيان در صدد تقويت مراكز خويش بر آمده اند .

گزارش علاوه مينمايد كه مسعود نيز در روز هاي اخير از امنيت شخص خود خيلي در تشويش بوده و در گارد امنيتي خود افرادي را كه مربوط فاميل و اقارب نزديكش نبود مرخص نموده و دوستان نزديك خود را در زمينه توظيف نموده است . به دنبال پيوستن تعداد كثيري از قوماندانان جهادي به امارت اسلامي افغانستان اكثريت قومانداانان مخالفين جلسات مهمي با هم پيمانان خود تشكيل داده و غرض نجات شان از مشكلات فعلي با هم به مشوره پرداخته و اكثريت شان نظر داده اند كه پيوستن آنها با امارت اسلامي افغانستان يگانه راه بهروزي آنها بوده و بس .

در اخير گزارش آمده است كه مسعود تلاش ورزيده تا غرض مقابله با مشكلات يك جلسه عاجل رهبران گروهك هاي رباني را در شهر تالقان داير نمايد اما استاد رباني ص ٤

در پرتو فرمان عاليقدر اميرالمؤمنين :

حافظان نابيناي قرآنكريم از امتيازات مامور رتبه سوم مستفيد ميگردند

فرمان شماره ۳ مؤرخ ۲۷ محرم الحرام سال ۱٤۲۱

عاليقدر امير المؤمنين در رابطه به پرداخت حقوق و امتيازات آنعده نابينايانيكه حافظ قرآن عظيم الشأن باشند. براي تمام نابينايانيكه قرآن كريم را به صورت مكمل حفظ دارند از بودجه امارت اسلامي افغانستان در تمام عمر معاش و امتيازات مامور رتبه سوم پرداخته ميشود. وزارت معارف امور مربوط را تنظيم نمايند.

والسلام

خادم اسلام امير المؤمنين

ملا محمد عمر مجاهد

دوه ديرش توليدي پروژې منظورې شوې

د خصوصي پانگې اچونې د سمون د بورډ له خوا د دوه ديرشو توليدي او خدماتي پروژو جوړيدل تاييد شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ د خصوصي پانگې اچونې د سمون د بورډ غونډه پرون د بورډ د دايمي مجلس د اكثريت غړو په گډون د خصوصي پانگې اچونې د هڅونې او پراختيا د مركزي اداري د لوي رئيس محترم مولوي شجاع الدين خدام په مشرۍ جوړه شوه چې په هغې كې د توليدي او خدماتي پروژو د جوړولو او فعاليت د ځرنگوالي او د ملي ٤ مخ

قوماندانان مجاهدين ولايت غور در تحكيم امنيت منطقه سهم ميگيرند

تعدادي از قوماندانان و چهل تن از افراد آنان در حومه مركز چغچران ديروز طي اجتماعي اهداف و برنامه هاي امارت اسلامي را ضامن خير و فلاح مرده و جامعه اسلامي ما دانستند.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر چغچران خبر ميدهد : در اين اجتماع ابتدا محترم مولوي عبدالرحمن حقاني ص ٤

دسمنگانو په ولايت كې ديرش عصري او ديني مدرسې فعالې دي

د سمنگانو ولايت د پوهنې رياست تعليمي فعاليتونه په دې وروستيو وختو كې د يوې غونډې په ترڅ كې وڅيړل شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ دغه غونډه چې د سمنگانو د والي محترم ملا عبدالمتين عاطفي په مشرۍ جوړه شوه لومړي د دغه ولايت د پوهنې رئيس محترم ملا مير عبدالرحمن احمدي د دغه رياست د كار او فعاليت رپوټ وړاندې كړ او وې ويل ؛ د سمنگانو ولايت په مركز او مربوطاتو كې ديرش عصري او ديني مدرسې فعالې دي چې له دې جملې څخه څلور ٤ مخ

د كابل د طب انستيتوت عمومي رئيس د شريعت اوونيزې له خبريال سره په مركه كې :

د كابل د طب انستيتوت ته به په روان كال كې ۲۵۰ تنه محصلين ومنل شي

شريعت : درنو لوستونكو! زمونږ خبريال د كابل د طب انستيتوت له رئيس محترم الحاج مولوي محمد فاضل سره ددغه انستيتوت د تحصيلي فعاليتونو د ځرنگوالي په باب مركه كړې چې لوستلو ته يې ستاسو پام را گرځوو .

په پيل كې محترم الحاج مولوي محمد فاضل داسې وويل : د كابل د طب انستيتوت بيلا بيلو پوهنځيو ته ٤ مخ

د هلمند ولايت د بست بو سل او شل بستريز روغتون شپه او ورځ د ناروغانو په خدمت كې دى

د هيلمند ولايت د بست روغتون د يو سلو شلو بسترو په لرلو سره د روغتيايي خدمتونو په وړاندې كولو سره شپه او ورځ د ناروغانو او ناروغ لرونكو په خدمت كې دى.

د لشكرگاه له ښار نه د باختر د اطلاعاتي آژانس خبريال خبر راكړ دغه روغتون چې هيوادوالو ته د روغتيايي خدمتونو په وړاندې كولو كې زياته ٤ مخ

وزير دفاع ايران با وزير داخله عربستان سعودي مذاكره نمود

در ملاقات علي شمخاني وزير دفاع ايران با امير نايف بن عبدالعزيز وزير داخله عربستان سعودي بر تقويت همكاري هاي دو جانبه در زمينه هاي مختلف تاكيد شد. در اين مذاكرات وزير داخله عربستان سعودي با تاكيد به اراده مقامات عربستان سعودي بخاطر توسعه مناسبات دو جانبه اين روابط را به نفع كشور هاي ص ٤

له ايران څخه :

د مهاجرينو يو لوى كاروان هيواد ته را ورسيد

د افغاني مهاجرينو يو كتار ورمه ورځ د اسلام كلا د بندر له لارې د ايران له هيواد نه خپل هيواد ته راستون شو.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ : دغه مهاجرين چي نهه سوه اووه ويشت تنه په انفرادي توگه او ديرش كورني په دله ييز ډول په يوه كتار كې ورمه ورځ د اسلام كلا د بندر له لارې هيواد ته راورسيدل. د هرات ولايت د چاروا كو له خوا يې هر كلي وشو د هرات ولايت دگازرگاه د دښتي د انصار په كمپ كې له يوې ورځې استوگنې وروسته خپلو اړوندو ٤ مخ

د سودان ولس له سختې لوږې سره مخامخ دى

د ملگرو ملتو د سازمان د خبر له مخې په سودان كې د كورنۍ جگړې په خاطر د دغه هيواد د لوږې له خطر سره مخامخ اود دوو مليونو تنو انسانانو ژوند له گواښ سره مخامخ دى. په همدې خاطر د ملگرو ملتو د سازمان سر منشي كوفي عنان د سودان په جنوب كې د دغه هيواد له بلوا گرو څخه وغوښتل چې د ص ٤

حكومت امريكا يك زن را اعدام ميكند

دولت ايالات متحده امريكا امروز يك زن را به اتهام قتل اعدام ميكند.

به گزارش شبكه خبري سي-ان-ان، زن مذكور كه در سال ۱۹۹۸ مرتكب قتل دو كودك شده بود در ايالت اركنساس ايالات متحده با تزريق امپول مرگ اعدام ميشود.

ايالات متحده امريكا به جنبش اسلامي لبنان هشدار داد

ايالات متحده امريكا به جنبش مقاومت اسلامي حزب الله لبنان در زمينه هرگونه حمله نظامي بر ضد دولت اسرائيل در فلسطين اشغالي هشدار داد .

ويليم كوهين وزير دفاع ايالات متحده امريكا گفت ايالات متحده امريكا هرگونه حمله به اسرائيل را به شدت پاسخ خواهد داد .

ويليم كوهين همچنان ضمن هشدار به سوريه گفت اسرائيل قرار است تا هفده هم ماه سرطان نيرو هايش را از جنوب لبنان خارج كند و بعد از آن هرگونه حمله بر اسرائيل به عمليات اسرائيل در لبنان و ساير نقاط خواهد انجاميد.

د اسرائيلو له لورې :

درې كلي د فلسطين خپلواكې اداري ته وسپارل كيږي

د لومړي ځل لپاره د فلسطينيانو لپاره د اسرائيلو د حكومت يوه استازي د فلسطين د خپلواك حكومت لرليد ترسيم كړيدي له فلسطينيانو سره د اسرائيلو د مركچي هيأت رئيس د ابلاغ په بنار كې د اسرائيلو او فلسطينيانو تر منځ د سولې د خبرو په بهير ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د امريكې د بهرنيو چارو وزارت د كلني رپوټ په هكله :

څو ورځې مخكې د امريكې د بهرنيو چارو وزارت په كلني رپوټ كې بيا هماغه سندره تكرار شوه چې گويا افغانستان د ترهگرۍ په يوه لوى نړيوال مركز بدل شوى او سره له دې چې د ملگرو ملتو له خوا بنديزونه وړاندې لگيدلي دي خو بيا هم امريكې ته د اسامه د ورسپارلو څخه ډډه كوي ، په رپوټ كې زياته شوې چې نور هم ډير تروورستان په افغانستان كې اوسيږي چې گاونډيو هيوادو ته يې هم سخت گواښونه ورپيښ كړي دي، ددې رپوټ يوه نوې خبره دا ده چې دا ځل يې پاكستان هم په دغو تروريستو كې راوستلى او آن د جنوبي آسيا اصطلاح يې كارولې ده چې لا نور هم پكې ورگډيدلاى شي د امريكې دا كلني رپوټ تول په ۲ مخ

پوليسو په لندن كې د پانگوالې ضد مظاهره چيان ونيول

د پانگه والي ضد هغه مظاهرې چې ورمه ورځ په لندن كې پيل شوې د پوليسو په لاس وهنې سره د تاوتريخوالي سبب شوې.

د خبري منابعو د خبر له مخې د پوليسو او مظاهره كوونكو تر ٤ مخ

كشور هاي حوزه كارايبن عليه امريكا دست به اعتراض زدند

حضور كشتي هاي جنگي ايالات متحده امريكا در آبهاي متعلق به جمهوري پورتيريكو باعث اعتراض شديد مردم آن كشور حوزه كارايبن شده است.

نيروي بحري ايالات ص ٤

شریعت

دتأسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مــرستیـال : غلام محمد «فاروق»
دیوي گڼې بیه : په هیواد کې (١٠٠٠) افغانۍ په پاکستان کی (٣) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ٢١٣٨١
توزیع او شکایات : ٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤٠٣٨٥ / ٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

هماغو ځانگړو عقدو باندی ولاړ دی چی دوی یی د یو شمیر معلومو هیوادونو او ولسونو سره لری او دا هم د دوی په هغی سیاسی، نظامی او اقتصادی ستراتیژی پوری اړه لری چی په هر حال یی خپلی ځانگړی گتی په نظرکی وی او کله چی د دوی په ستراتیژی کی څه بدلون راشی نو بیا ډیر ژر هماغو دوستو هیوادو سره دښمنی راواخلی او ډول ډول پلمی ورته لټوی، همدا خبره د پاکستان او افغانستان دواړو هیوادو په هکله بلکل رښتیا ثابتیږی او دا ځکه چی کله یی د کمونیزم خطر په مخکی و نو د افغانانو هر ډول مرسته یی کوله، هغه وخت نه د نشه یی توکو څه اندیښنه وه، نه د ښځو حقوق تر پښو لاندی شوی و او نه د تروررستانو مرکزونه موجود و حال دا چی په حقیقت کی هماغه دغه مجاهد افغانان خو د دوی د خپلی ځانگړی ستراتیژی دا غوښتنه وه چی باید په دی سیمه کی ددغو ولسونو او هیوادونو ملاتړ ولری، خو کله یی چی خپل حاجتونه پوره شول نو سمدستی بیا دا هیوادونه د بشری حقوقو په نه درناوی د مخدراتو په تولید او تروررستی روزنه باندی تورن شول،د امریکی چارواکی په ډیری چالاکی سره دا خبری په یو داسی حالت کی څرگندوی او ډنډوری وهی چی هم افغانستان او هم پاکستان په جدی ډول د تروریزم ښکاردی او هره ورځ اورو چی ددی لړی څو مره غم لړلی پیښی دلته منځ ته راځی د افغانستان هغه دښمنان چی هیڅکله یی هم سوله او آرامی نه را باندی لوریږی په ډاگه خپل شوم نیتونه څرگندوی او د اسلامی امارت مخالفینو ته د هر ډول پوځی مرستو ورکولو لا پی وهی، پیسی ورته چاپوی، په لوبو لارو ، څړ ځایونو او کروندو کی د خلکو د څورولو بد ترین دښمن (مینونه) ښخوی او د هماغه بدخشان او تاجکستان له پولو هره ورځ په زیاته اندازه نشه یی توکی تیریږی او د نړی ترلری لری هیوادونو رسول کیږی خو بیا هم مخالفین د امریکی له شاښی برخمن او د اسلامی امارت په خلاف د درواغجنو تبلیغاتو سخت برغلونه کیږی خو حقیقت هماغه یو حقیقت دی چی ټول نړیوال کفر په رښتیا سره هم ځانگړی ارمانونه لری او هیڅکله به هم د مسلمانانو له ځورولو او تنگولو لاس وانه خلی او څومره چی یی د لاسه کیږی په اسلامی نړی کی به د اختلافاتو او جنجالونو اورته لمن وهی او تروسه وسه به هلته د ثبات او استحکام گډوډولو هڅی کوی او دا دی د سر په سترگو وینو چی څنگه له یوی مخی ټول دا خبری تکراروی او په هر ځای کی غوندی جوړوی چی په څه ډول د اسلامی غورځنگونو مخنیوی وکړی خو تر کومه ځایه چی په اسلامی امارت پوری اړه لری ټولی نړی ته یی ثابته کړی چی نه مو چا ته څه ستونزی پیدا کړی، نه د چا سره څه دښمنی لرو او نه د نورو په کورنیو چارو کی د لاس وهنی اراده، او یوازینی ارمان مو دا دی چی په څه ډول مو په خپل هیواد کی امن او استحکام رامنځ ته شی او د آبادی او سمسورتیا په لورگامونه واخلو او هغه تورونه چی زمونږ پر خلاف لگول کیږی بیخی د حقیقت نه لری او بی اساسه دی، مونږ په ډاگه وایو چی که هر څوک غواړی ددی خبرو سپیناوی وکړی مونږ به ورسره مرسته وکړو او بیا به په خپله ورته څرگنده شی چی په رښتیا هم د اسلامی امارت پر خلاف د بی ځایه تعصب نه کار اخیستل شوی دی.

د مور حق

چې نه مري لا به واوري

عبدالرحیم «ثاقب»

مور رحمت ده، مور جنت ده، مور مینه ده، خوا خوږی ده عطوفت ده او مور د بشری ټولنی د تشکل اساسی هسته ده. له همدی امله د اسلام په سپیڅلی دین کی مور ته ځانگړی مقام ورکړل شوی د هغی رضا د څښتن رضا او ناخوښی یی د لوی څښتن نا خوښی بلل شوی ده خو را ځی وگور چی په اوسنی متمدنه غیر اسلامی ټولنه کی هغی ته کوم ارزښت ورکړل شوی او د حق پر ځای کیدو لپاره یی څه اقدامات تر سره شوی.

په کولمبیا کی یوه ښځه چی په قهره خانه کی یی د عامو میلمنو د تشریفاتی خدمت وبار په برخه و د یوه بدمعاشه رونالدو نومی ځوان لخوا په چاکو ووهل شوه.

ستړی ستومانی خادمې د خپل مظلومیت عریضه ځایی پولیسو ته وړاندی کړه پولیسو سمدستی رونالدو ونیو او د قضیی د زیاتی څیړنی په غرض یی څارنوال ته وسپاره هغه د څارنوال په مخکی خپل جرم ومانه او په هغه پرسیره یی په همدغه ځای او همدغی دنده کی د دریوو نورو ښځو پر وژلو هم په خلاصو تیبو اعتراف وکړ.

څارنوال د مجرم دوسیه بشپړه اود وروستیو اجرائتو لپاره یی قاضی ته وسپارله قاضی وریاندی د اعدام حکم صادر کړ او د حکم د پلی کیدو لپاره یی د غرغری ځای ته بوتی. محکوم کله چی وپوهیدی چی نور یی د غرغری کړی غاړی ته لویږی او دا یی د ژوند اخرنی شیبی دی له قاضی یی مهلت وغوښت او مخی ته یی تیغ ودریدو او په صافو او ساده ټکو یی داسی وویل: ما نه یواځی چی دا یوه ښځه په چاکو وهلی بلکی تر دی له مخی می د هغی دری ملگری او تر هغه له مخه ځی یواځی په دی یوه کال کی ٣٥ همدا شانی بیگنا ښځی نوري هم ژوندی حلالی کړی او تر دنیا می تیری کړی.

قاضی بیرته د دار له کړی د هغه د خلاصیدو امر وکړ او له هغه څخه یی دده ددی کړو ورو د لامل پوښتنه وکړه.

مجرم وویل: زه له خپل پلاره یتیم پاتی شوی یم او د ماشومتوب نور عمر می د خپلی مور تر سر واکی لاندی تیر کړی. مور می سره له دی چی زما په پالنه او روزنه کی ډیری ستونزی گاللی خو پر مایی هم ډیری ستونزی راوستی او ډیر یی ځورولی یم په هغه مهال زما په وس هیڅ نه و پوره ځکه زه ماشوم وم خو د مور د ټولو هغو ځورونو نقش می همداسی په زړه پاتی کیدو زه لا ماشوم وم چی مور می هم مړه شوه او زه یی له ظلمونو څخه خلاص شوم خو له هغی څخه د خپل حق اخیستلو ارمان می همداسی نیمگړی پاتی شو اوس چی لوی شوی یم او هر څه می په وس پوره دی هر چیری چی می په ښځی لاس برېږی په هغه گری یی وژنم او تر دنیایی تیروم تر څو وتوانیږم چی په دی سره می له هغی څخه د خپل مظلومیت حق اخستی دی.

غرب و روش پیروی از نظریه اسقاط

ابو قدامه

غرب خویش را پیام آور و مدافع حقوق انساني، مبشر و صادق در تنفیذ و اجراء حقوق بشري در هر میداني از میادین حیات مي داند، او تنها خیر خواه انسانیت است و هم اوست که در مورد فلاح و رشد انسانیت تلاش مي ورزد. آنان خودشان را پاك و مبري از گناه و اشتباه مي دانن و مارك و برچسپ هتك حرمت به حقوق انساني را به مؤمنان و مسلمانان مي زنند. ما نمي خواهیم در پي دفع این شبه باشیم و جواب دادن به آن مخالف اصول تصنیف و تالیف است، مؤمن و مسلمان هرگز حقوق انساني را تضبیع نمي کند چرا که خدایش وي را به قسط و داد توصیه نموده و وي را با صفت «قوامین بالقسط» نواخته است آنجا که مي فرماید: **«یا ایها الذین آمنوا کونوا قوامین ...»**

غربیان چهره هاي معصومانه و ملکوتي براي خود ترسیم نموده در حالیکه خود شان سازمان هاي استبدادي را تأسیس و نیز طاغوت هاي زمان را حمایت و به نداي شان لبیك مي گویند.

چه کسي تمویل، تقویت و رشد سیاست طاغوت ها و مفسدان افریقا را بعهده دارد- آناني که در کشور ها فساد مي کنند، زندگي انسانها را در معرض خطر قرار داده، کرامت انسانها را زیر پا گذاشته و حقوق آنان را پایمال کرده اند- و آنان را در آغوش گرفته است؟

اینان سیاستمداران ریاکار و مزور غرب در دفاع از حقوق بشر هستند. چه کسي رهبري، سر پرستي و تشجیع کودتا هاي نظامي را در کشور هاي جهان سوم خصوصاً ممالك عربي، در طول ٦٠ سال گذشته بر دوش گرفته است؟ کودتا هایي که با تانکها، پولیس ها، دادگاه ها و محکمه هاي نظامي و زندان ها و سیاه چال هاي خود چهار حق اساسي انسان را- حق حیات، حق کرامت، حق زندگي آزادانه و حق حفاظت مال، خانه و آبرو، تلف وزیر چکمه هاي نوکران جیره خوار و جلادان خون آشام خود مضمحل ساختند.

آري! اینان رهبران ریا کار غرب و مدعیان دروغین دفاع از حقوق بشر اند. چه کسي شاه ایران، سوهارتوي اندونزي مارکوس فلیپین و بوکاساي افریقاي میانه و موبوتوي زئیر را حمایت، حراست و پشتیباني نمود؟ بلي اینان رهبران متملق و چاپلوس غرب و دروغگویان حرفه اي و جهاني سازمان دفاع از حقوق بشر اند. چه کسي از رفتار جلادان نظم و امنیت در کشور هاي عربي، در کشور هاي جهان سوم و دوم مانند روسیه، هیچ خم به ابرو نمي آورد و ساکت است و بالعکس با لطف، حنان و شفقت، دست نوازش بر سر آنان مي کشد تا روابط دیپلوماسي و خارجي شان از هم نگسلد و نپاشد؟

چه کسي و چه کساني وسایل شکنجه و آزار انسانیت را اختراع و کشف نمودند و تا کنون هم به طاغوت هاي زمان اجازه استفاده از آن را مي دهند؟ به والله اینان رهبران سالوس و رهبران خوش ظاهر و بد باطن سازمان دفاع از حقوق بشرند. دلیل و شاهدي دیگر بر ریاي تمدني و شرمندگي سیاسي غرب: همه وسایلي که غرب در راه پیشبرد اهداف شوم خود از آنها کار مي گیرد. وسایل و ابزار هاي فکري، سیاسي، مطبوعاتي و فني و ... دست به دست هم داده، در راه پیاده کردن نظریه اي به نام «نظریه، اسقاط» همکار و همدوشند.

روانشناسان از نظریه «دفع امراض و بلا ها و تکالیف شخصي و ذاتي و انتقال و ریختن آن بر افراد دیگر» تعبیر به نظریه اسقاط مي نمایند. به عنوان مثال: دو هزاره، گذشته میلادي مملو و مالامال از جنگ ها، ویراني ها، ترور ها، خونریزي ها، قرباني ها، غم ها و اندوه ها بوده، تاریخ بشري و ملل خود بر این گفته ما انگشت صحه مي نهد و همه این جرائم را به غرب و اخلاق غربي راجع مي گرداند، به همین سبب رهبران غرب تا حد امکان، مشکلات امراض و مصائب و میکروب ها و جرثومه هاي فساد را بر امت اسلامي وارد ساخته چرا که به خیال آنان امت اسلامي، امت ترور ظلم و شرك است. العیاذ بالله

کمال سادگي است انسان این ریاکاري غرب را تصدیق نماید، در صورت تصدیق این فکر، باید این مطلب نیز اذعان نمود که غرب پیام آور دفاع از حقوق بشر است، اوست که تنها رفاه، آسایش، صدق و راستي را براي جامعه انساني به ارمغان آورده و مي آورد اما حاشا و کلا.

ما معصوم نیستیم تا بر غربي ها افترا و تهمت ببندیم و تصور ظلم و ستم آنها را در ذهن خود جاي دهیم، چرا که ظلم خدا را ناراض مي سازد و خدا ظالمین را دوست ندارد. «والله لا یحب الظالمین»

اما چاره چیست و چه باید کرد در مقابل کساني که دیگران را مخالف حقوق بشر مي دانند در حالیکه خود به این مرض و بلا گرفتارند؟ چه باید کرد در مورد موقف غرب و تناقض گفتار و کردار آنها در مورد مسایل حقوق بشر؟

و بالآخره موقف ما در مورد شواهد عیني ذیل چیست؟

١- در مقدمه منشور سازمان ملل آمده است که: «همه کشور هاي دنیا، کوچك و بزرگ، در حقوق با هم مساوي و برابرند» حق مساوات بین کشور ها با اختصاص حق ویتو به ٥ کشور دنیا و لاـ غیر، ملغي شده، آیا مي توان نام این عمل را برابري و مساوات حقوق دانست؟!

٢- در بند اول ماده دوم منشور چنین آمده است: «تمام اعضاء از سیادت مساوي برخوردارند» سیادت داراي تفسیر ها و معاني متعددي است در ذیل به سه تفسیر آن اشاره مي نمایيم:

الف: کنفرانس سان فرانسیسکو سیادت را این گونه تفسیر مي کند: «مساوات بین کشور ها از نگاه قانوني، کشور ها در دو بعد داخلي و خارجي از سیاوت و مساوات برخوردارند»

ب- محکمه علیاي ولایت متحده سیادت را این گونه معني مي کند: «هر کشور در اقلیم و محدوده خود از ولایت مطلقه برخوردار است»

ج- سازمان دادگستري جهاني سیادت را به گونه اي عملي و دقیق تفسیر مي کند که: «احترام به سیادت اقلیمي کشور هاي مستقل یکي از مهمترین شرایط اساسنامه ها و قانون نامه هاي روابط بین المللي است»

اولین و مهمترین حق سیادت، حق تشریع و وضع نظام اجتماعي و سیاسي هماهنگ با این قانون وضعي و تشریعي است. اما در این راستا کشور هاي غربي را مي بینیم که سعي بر آن دارند این حق اساسي و مهم انساني را با دخالت در امور داخلي کشور هاي دیگر با استفاده از تاکتیك ها و روش هاي گوناگون مانند دموکراسي، دفاع از حقوق بشر و ... زیر پا نهند، کجاست اختیار و آزادي انسان در مورد حق مسلم و واضحي که خود اورا مستحق اعطا و ابقا آن مي دانند؟!

٣- در ماده ٧ منشور حقوق مدني و سیاسي دولت ها آمده است که «نمي توان هیچ فرد را بدون رضایت و طیب خاطر مجبور به اجرا رتست هاي طبي، تجربوي و علمي نمود.

اما این حق نیز در امریکا زیر پا نهاده شده است، یك فرد نه بلکه هزاران سیاه پوست، قرباني این اعمال زشت و شنیع شان گشته و مي گردند، و با این کار حیات، بقاء صحت و سلامتي شان را در معرض خطر انداخته، چهار قرن است که به این کار مخفیانه پرداخته که بالآخره خدا رسواي شان ساخت و پرده از اسرار شان برداشته شد و کلنتن بعد از انجام این جرائم توسط امریکا طلب عفو و بخشش مي نماید اما «بعد از مرگ سهراب نوشدارو» چه سود.

٤- اساسنامه جهاني اعدام افراد کمتر از ١٨ سال را ممنوع اعلام نموده و این کار را جرم مي داند، اما این حق نیز در ٢٠ ولایت امریکا با اعدام افراد ١٦ ساله زیر پا نهاده شده است.

٥- «انسان آزاد است تا در مورد مواد غذایي و ترکیبات آنها معلومات حاصل نماید»

سلامت جسماني و اصول بقاء و زندگي انساني ایجاب مي کند تا انسان در مورد برنامه هاي بهداشت و صحت از خویش حرص نشان دهد و قانون مدني نیز وي را وادار به این عمل مي نماید؛ اما نظام سرمایه داري و کاپیتالیزم امریکا این حق را ضایع و با این کار در دارو سازي به قله هاي پیشرفت و ترقي نایل گشته است. کشور هاي دنیا از مراکز دارو پخش خواسته اند تا بر قوطي هاي دارو ترکیب مواد سازنده را نوشته تا مردم به حق مسلم خود معلومات دارویي نایل آیند اما نظام سرمایه داري امریکا از دادن اطلاعات و معلومات خودداري نموده و مي گوید، ترکیب دارو ها جز اسراري است. که نباید افراد دیگر از آن اطلاع یابند اما این دلیل بي پایه و بي اساس است، رازي که در وراء این بخل علمي نهفته است این است که شاید مردم بخاطر عدم اطمینان صحت و سلامتي شان از خرید آن اعراض و بدین وسیله بازار گرم دارو کساد گردد، چرا که تمام تلاش غرب گرم کردن بازار هاي داروست و بس و از حقوق انساني خبري نیست.

٦- در بند ٦ ماده ٢٦منشور سازمان ملل «حقوق اجتماعي انسان» آمده است که: «اولین حق تربیت فرزندان از آن پدران است»

اما امریکا این حق را نیز زیر پا نهاده بر آن است تا روابط پدر با دختر و پسر را با بهانه هاي پوچ و واهي مانند ضرب و شتم ... قطع سازد، آري به این صورت، این حق اجتماعي تلف، که تضییع آن عواقب وخیم و نا بهنجاري را مانند دزدي، سرکشي، قتل و غارت ببار آورده است.

٧- انجمن عمومي سازمان ملل ماده، (١٩٤) را این گونه به تصویب رسانده است که: «انجمن عمومي سازمان ملل به تمام پناهندگان کشور هاي مختلف دنیا اجازه مي دهد تا با رفاه و آسایش خاطر به کشور هاي شان بازگردند و زندگي با ثبات و آرام را با همسایگان شان مجدداً آغاز نمایند و پرداخت غرائم اموال و املاك از دست رفته شان بعهده، این انجمن است.

بنا بر این ماده پناهندگان و مهاجرین فلسطیني مي توانند به وطن شان باز گردند، اما مي بینیم اسرائیل با تایید و حمایت غرب خصوصاً امریکا این حق را از فلسطینیان سلب ساخته است. اینان چگونه از حقوق بشر سخن بر زبان مي رانند و نعره هاي دفاع از حقوق بشر سر مي دهند؟ چگونه مردم به این ادعا هاي پوچ و متناقض آنان اعتماد نمایند؟!

نظری گذرا بر اقتصاد اسلامی

مجیب الرحمن

براي بررسي اقتصاد اسلامي، بد نيست كه در ابتداء علم اقتصاد و سيستم اقتصادي را تعريف نماييم.

علم اقتصاد : علمي است كه حيات اقتصادي و پديده هاي اقتصادي و جلوه هاي آن را تفسير نموده، ارتباط آن پديده- ها و جلوه ها را با اسباب و عوامل كلي اي كه بر آن حاكم است بيان مي دارد.

سيستم اقتصادي : عبارت از اسلوب و روشي است كه يك جامعه ترجيح مي دهد در حيات اقتصادي و حل مشكلات و معضلات عملي خويش از آن پيروي كند.

آيا مي توان اقتصاد اسلامي را علم اقتصاد يا علم اقتصاد سياسي ناميد ؟ نه هرگز چرا كه علم اقتصاد پديده ايست نو ، كه ارمغان نظام پوچ سرمايه داري است و پديده، قرن ١٤ است. اقتصاد اسلامي و نظام اقتصادي اسلام قرن هاست كه امتحان خود را در ميدان عملي داده و در اين آزمايش ها و تست ها بهترين نمرات را از آن خود ساخته است.

اقتصاد اسلامي داراي اصول و قوانيني است مجزاء و متفاوت با اصول خيالي نظام هاي سرمايه داري و كمونيستي.

لذا به صورت خلاصه سه اصل مهم اقتصاد اسلامي را مورد بررسي قرار مي دهيم :

١- اصل مالكيت مختلط

٢- اصل آزادي اقتصادي در كادر محدود

٣- اصل عدالت اجتماعي

بر خلاف نظام سرمايه داري كه فقط به مالكيت فردي قايل است و تمام سرمايه را در اختيار يك فرد قرار مي دهد و فقط اوست كه زمام امور اقتصادي را در دست دارد، نظام اسلام خط بطلان بر مالكيت فردي كشيده، و براي آن شرايط و اصولي را وضع نموده است .

و اسلام بر خلاف نظام كمونيستي معتقد به مالكيت عمومي نيست كه تمام سرمايه در اختيار دولت قرار گيرد و هم اوست كه مردم را برده و اجير خود قرار دهد و با دادن تكه ناني، شكم وي را سير و وي را از اين نعمت بزرگ و عظيم خدا دادي كه همانا تلاش و كوشش آزادانه با رعايت حقوق ديگران باشد محروم سازد.

نظام اسلام داراي سه اصل اساسي فرعي در اصل مالكيت مختلط است :

١- مالكيت خصوصي٢- مالكيت عمومي ٣- مالكيت دولت

اما اين بدين معني نيست كه نظام اسلام بر گرفته از نظام سرمايه داري و نظام كمونيستي است چرا كه عمر اين نظام هاي جديد كمتر از عمر نظام اقتصادي اسلام است پس چگونه مي توان به اين نظام الهي نام نظام مركب از دو نظام فوق نهاد و اصول اين دو نظام موقتي بوده و از آن به نام علاج موقتي ياد مي شود.

بنا بر اصل دوم نظام اقتصادي اسلام، آزادي محدود و در چهار چوب ارزشهاي معنوي و اخلاقي است. اسلام به دو محدوديت ذاتي و عيني توجه نموده و به اين دو ارج مي نهد.

محدوديت ذاتي : از ژرفاي روح آدمي سرچشمه گرفته نيرويش را از ذخاير روحي و فكري شخصيت اسلامي تأمين مي كند اين كه شخصيت اسلامي داراي چه معيار ها و ميزان هاي سنجش و تشخيص است موضوعي است مفصل كه در اين چند سطر نمي گنجد.

محدوديت عيني : نيروي خارجي است كه رفتار و سلوك اجتماعي را مشخص و كنترول مي كند. اگر اين نيرو نباشد رشد انسان از حالت طبيعي خارج و به بيماري هاي متعددي مبتلا خواهد شد. شريعت اسلامي در منابع اصلي و عمومي خود تصريح كرده - كه كليه، فعاليت هاي اقتصادي و اجتماعي يي كه از نظر اسلام باز دارنده تحقق ايده ها و ارزشهاي ساخته شده اسلامي هستند مانند ربا و احتكار و امثال آن محدود است.

. - اسلام اصل نظارت حكومت اسلامي (امير يا ولي امر) را بر فعاليت عمومي و دخالت دولت براي حمايت مصالح عمومي و نگهباني از آن بوسيله محدود كردن آزادي هاي افراد در كارهايي كه با آن سرو كار دارند وضع كرده است، و وضع اين اصل از طرف اسلام ضروري و مهم است. بهترين نمونه و مدرك شرعي اين اصل قرآن مجيد است آنجا كه مي فرمايد : « اطيعو الله و ...

اصل سوم از اصول اقتصاد اسلامي، اصل عدالت اجتماعي است، اين اصل داراي دو اصل فرعي بوده كه عبارتند از : ١- اصل همكاري عمومي(تكافل عام)

- ٢- اصل توازن اجتماعي

اولين خطبه، پيامبر، رهبر بزرگ انسانيت در اولين روز هاي تشكيل نظام اسلامي و توصيه هاي حضرتش در مورد انفاق خود دلالت بر تكافل اجتماعي دارد قرآن كريم نيز در اولين آيات سوره، بقره يكي از صفات متقيان را انفاق در راه خدا دانسته است.

خلاصه اينكه اقتصاد اسلامي داراي دو صفت عمده و مهم است كه در ديگر مكاتب و نظام ها از ان خبري نيست : ١- صفت واقعي ٢- صفت اخلاقي

نظام اقتصادي اسلام، يك نظام اقتصادي واقعي است كه با واقعيت هاي انساني تطبيق داشته، برگرفته از خو و سرشت انساني است و با خواسته هاي معقول بشري هم خواني و مطابقت دارد. اسلام مي كوشد تا در وضع قوانين خود به انسان دروغ نگويد. و او را در جو عالي اي كه ما فوق قدرت اوست، به پرواز درنياورد، اما نظام خيالي كمونيست و نظام سرمايه داري، با دادن وعده ها و نويد ها، انسانيت را در سراب و تصوراتي سوق مي دهد كه انجامش جز هلاكت و نابودي چيز ديگري نيست.

و بالآخره دين مبين اسلام، واجبات مالي را جزء عبارت هاي شرعي شمرده، اخگر اخوت همگاني و عواطف اسلامي را در قلوب هر فرد از افراد خود شعله ور ساخته بدون هيچ گونه فشار و اجباري از طرف حكومت، افراد در پي پرداخت واجبات مالي خويش بر آمده، تا اين دين و واجب الهي را اداء و خويشتن را سبك دوش سازند. اصول اسلامي و اقتصاد آن با ١- عقيده اسلامي ٢- مفاهيم اسلام در باره جهان و زندگي ٣- عواطف و اخوت اسلامي، ٤- سياست مالي دولت ٥- نظام سياسي اسلامي٦- الغاي سرمايه ربوي و احكام غير اسلامي٧- بعضي از مالكيت هاي خصوصي و احكام جهاد و در نهايت با ٨- قانوني جنايي اسلام هم آهنگي و همخواني دارد.

به عنوان مثال اسلام در احكام جهاد، از بردگي اسراء پيروانش را باز داشته ، كتاب و قانون نامه بزرگ الهي براي جلوگيري از اين معضل و مشكل بزرگ در مورد اسراء قوانين و اصولي را وضع كرده كه بردگي اسير را در آخرين درجات قوانين اسارت قرار داده است.

و براي جهاد دو شرط اساسي وضع نموده، تا از بي- نظمي و ظلم جلوگيري نمايد :

- اسلام جهاد را با اجازه ولي امر و امير المؤمنين شروع مي- نمايد تا از چپاول و غارت اموال مردم جلوگيري نمايد كه اين خود دلالت بر حفاظت اموال و مالكيت خصوصي افراد جامعه مي- كند و بالآخره- حركت هاي اسلامي در اولين روز هاي حيات خود رسالت خويش را اعلام نمايند تا مردم با طيب خاطر به آغوش اسلام و قوانين اسلامي در آيند و آن را با جان و دل قبول و از آن حمايت نمايند.

كرنه له سعودي زده كړي

فاروق

څه موده وړاندې په قاهره كې د اسلامي نړۍ د اقتصادياتو په هكله يو سيمينار جوړ شوى و چې د ډيرو اسلامي هيوادونو اقتصاد پوهانو او د زراعت ماهرينو برخه پكې اخيستې وه د سيمينار ګډون كونكو د كرنې او زراعتي پيداوار- و د زياتولو په ډګر كې د سعودي عربستان هلې ځلې وستايلې او ډيرې اغيزمنې يې وبللې، ځكه سره له دې چې د هغه ځاى ځمكه او په او هوا يو هم د كرنې لپاره چندان مناسب نه دى، ځمكه زياتره شګلنه اوريګستانونه دي، رواني اوبه خو له سره بيخي شته نه او له ډيرو ژورو كوهيانو راويستل كيږي او هوا په زياترو سيموكې داسې وي چې په اوړي كې ډيره توده او په ژمي كې ډيره سړه وي خو بيا هم كرنې او مال دارۍ ډيره وده كړې ده او هغه ورغ لرې ته ده چې په ټوله اسلامي نړۍ كې به سعودي عربستان يوازنى هيواد وي چې د غلې او نورو زراعتي پيدا وارو، شيدو، غوښو او هګيو له دركه به په كور بسيا او آن لا بهر ته به يې صادروي، د سيمينار ګډون كوونكو دا هيله وكړه چې بايد نور اسلامي هيوادونه هم د سعودي له تجربو نه په دې برخه كې ګټه واخلي په سيمينار كې د امام محمد بن- سعود د پوهنتون يوه استاد ډاكټر خالد بن سعد په تفصيل سره د- هغو پروګرامونو يادونه وكړه چې په سعودي كې د كرنې په هكله ترې كار اخيستل كيږي، ده وويل چې زمونږ بنسټيز اصل دا دى چې د شاړو ځمكو دودانولو لپاره مو اسلامي تګلاره غوره كړې ده، كومه چې د شاړو ځمكو د آبادولو لپاره ډيره تشويقوونكې ده او هغه دا چې « من احيى ارضا مواتاً فهي له » يعني چا چې مړه ځمكه ودانه كړه نو هغه دده شوه په سعودي كې د كرنې ځمكې خلكوته مفتې وركول كيږي د كرنې نور وسايل او ماشين الات هم له ګمركي محصول نه معاف او بزګرانو باندې د حكومت له خوا په ارزانه بيه پلورل كيږي او كله چې څوك شاړه آباده كړي نو بيا هغه ته د شخصي ملكيت اسناد هم برابريږي او كه آباده يې نه كړي نو وروسته له پنځو كلو ترې اخيستل كيږي او بل چا ته وركول كيږي . همدارنګه د زراعتي مشورو او تجربو په هكله هم د حكومت له خوا بزګرانو سره ډيره مرسته كيږي او د اصلاح شوو تخمونو، ښو ميوه لرونكو ونو بوټو له پلوه خو بيخي ډيره پاملرنه موجوده، ده نو همدا وجه ده چې زمونږ غلې دانې، ميوه او تركاري، شيدې، غوښه او هګۍ ورغ په ورغ مخ په زياتيدو دي او دغه سياست ډيرې په زړه پورې نتيجې وركړې دي دا خو د سعودي د غلې دانې او كروندې خبرې وې چې خداى پاک دې نور هم بركت ورته پكې واچوي خو زه دا وايم چې مونږ افغانان به تر څو د پردي د سترخوان ډوډۍ شمارو، په كار ده چې مونږ هم دغسې پروګرامونه جوړ كړو د خداى فضل دى مونږ ډيره ښه د كرنې وړ ځمكه ښې اوبه او ډيره مناسبه هوا لرو، كه چيرې په دې هكله زمونږ مشران لږ پاملرنه وكړي او بوازې همدا لوى لوى خاورين ډاګونه په خلكو وويشي او پانګه وال هم د خپل هيواد د سمسورتيا او ودانولو په تكل ډګر ته را ووځي اوبه دې ځانګه كې لګښت وكړي، ان شا ء الله چې ډير زر به افغانان هم په كور بسيا او د خپلې غلې ځښتنان شي.

تغذيه و تداوى اطفال مصاب به اسهال

دكتورس خديجه مصباح وزيري

هم اكنون كه هوا رو به گرمي است در اطفال واقعات اسهال از همه امراض بيشتر به مشاهده ميرسد بي مناسبت نخواهد بود كه براي مادران در مورد تداوي و راه هاي وقايوي اين مرض خطرناك چيز هايي بگوييم.

معمولاً در اسهال مواد غايطه نسبت به حالت نورمال حاوي مقدار زياد آب بوده نرم و آبگين ميباشد و در ٢٤ ساعت سه بار يا زياد تر تكرار مي گردد گاهي شايد حاوي خون نيز باشد كه اين حالت را پيچ Dysentery مي گويند .

چرا اسهال خطرناك است ؟

در اسهال دو خطر عمده و اصلي وجود دارد كه عبارت از مرگ و سوءتغذي ميباشد چون از سبب اسهال آب و نمك ها از بدن ضايع ميگردد بعضاً منجر به مرگ اطفال شده ميتواند. اسهال در نزد كسانيكه مصاب سوءتغذي ميباشد نيز خطرناك بوده همچنان اسهال ميتواند سبب سوءتغذي شده و يا سبب دخالت سوءتغذي گردد زيرا كه : در اسهال مواد غذايي از بدن خارج مي گردد. مواد غذايي بجاي آنكه در نشو و نما بدن به مصرف برسد در ترميم انساج تخريب شده به مصرف ميرسد . طفل مصاب به اسهال شايد گرسنه نشود ، بي اشتها ميباشد.

بعضي مادران فكر مي كنند اگر غذا به طفل داده نشود اسهال كم ميگردد حال آنكه بايد در اثناي اسهال جهت قوي نگاهداشتن طفل و تأمين نشو و نما غذاي خوب بر علاوه مايعات ضروري ميباشد.

سوال بوجود ميآيد كه چگونه بايد مايعات را به طفل داد ؟ مايعات مانند شورباي تركاري، شورباي حبوبات و آب برنج مايعات متذكره بايد تا حد ممكن غليظ بوده و قابل نوشيدن باشد.

براي اطفال كمتر از دو ساله در مقابل هر عمل تغوط به مقدار ٥٠-١٠٠ سي- سي مايعات و از دو ساله الي ده ساله به مقدار ١٠٠- ٢٠٠ سي سي و از ده ساله به بعد هر قدر كه نوشيد .

در حالت اسهال بدن طفل فوق العاده ضعيف مي شود براي آنكه از سؤ تغذي جلوگيري صورت گيرد لازم است براي اطفال مصاب به اسهال غذاي خوب داده شود.

بايد گفت كه محلول ORS كه براي تداوي اسهال بكار ميرود وظيفه مواد غذايي را اجراء كرده نميتواند در اثناي اسهال براي اطفال شير خوار، شير مادر را زود زود بدهيد اطفاليكه از شير هاي غير- شير مادر استفاده ميكنند و تا حال مواد غذايي سخت براي شان داده نشده بايد شير آنها را به علاوه نمودن آب به مقدار مساوي رقيق نماييم. اطفاليكه عمر شان از شش ماهه زياد بوده و قبلاً مواد غذايي سخت براي شان داده شده است مواد غذايي كه هضم آن آسان و ارزش غذايي آن زياد باشد مانند مخلوط حبوبات، مواد نشايسته، پلي ها، سبزيجات ، گوشت ماهي و اندازه روغن در غذا يكجا و خوب نرم و ميده كرده شده بعد به طفل بدهيد.

دادن تخم در وقت اسهال نيز براي طفل خوب است آب تازه ميوه كيله جهت اكمال پوتاشيم كمك مي كند آب هاي ميوه كه در قوطي گذاشته شده براي اطفال خوب نبوده و شايد اسهال را زياد نمايد.

قابل ياد آوي است كه بعد از كسب صلاح ، اسهال براي دو هفته حد اقل روز يكبار غذاي اضافي توصيه گردد تا طفل وزن از دست رفته خود را دو باره بدست بياورد. همچنان اطفاليكه وزن آنها كمتر از وزن طبيعي باشد تا وقتيكه وزن طبيعي خود را بگيرد يك غذاي اضافي داده شود.

قابل تذكر براي مادران است كه در موارد ذيل طفل خود را به نزد داكتر و يا شفاخانه ببرند :

- اسهال تا سه روز بهبود نيابد .
- اسهال آبگين و زياد باشد
- استفراغات مكرر
- تشنگي زياد
- كم بنوشد و كم بخورد
- تب داشته باشد
- در عمل خون ديده شود

چگونه ميتوانيم اطفال خود را در برابر اسهال وقايه نماييم:

- مادران بايد حتماً اطفال خود را در سنين چار ماهگي و شش ماهگي و دوام آن حد اقل يك سال از شير خود تغذيه نمايند.
- شروع مواد غذايي در سنين ٤-٦ ماهگي ضرور ميباشد.
- دادن غذا هايي كه تازه تهيه شده باشد و دادن آب هاي پاك
- دادن شير و مايعات ديگر ذريعه- پياله و قاشق و خود داري از استعمال شير- چوشك.
- شستن دست ها بعد از رفع ضرورت ، قبل از تهيه مواد غذايي و قبل از صرف مواد غذايي براي تمام فاميل
- استعمال بيت الخلاء
- جا بجا نمودن مواد غايطه اطفال خورد سال در بيت الخلا يا سوختاندن آن
- تطبيق واكسين سرخكان بعد از سن ٩ ماهگي

ترتيب كننده : سلطانه رحيم

دین نصیحت دی

روند تحصیلات عالی در کشور
تلاش هاییکه در زمینه باید انجام یابد

مسؤولین محترم وزارت تحصیلات عالي با بذل مساعي و تلاشهاي فراوان خویش توانسته اند تا نظام تخریب شده تحصیلات عالي در کشور را دوباره حیات تازه بخشند. دروازه هاي کسب علم و دانش را در مقابل جوانان میهن مفتوح، تعمیرات مخروبه پوهنتون هاي کشور مجدداً ترمیم، هزاران تن محصلین بي بضاعت را دړ لیلیه ها اعاشه و در راه پیشبرد و پیوند مؤسسات تحصیلات عالي کشور با مجامع علمي و تحصیلي بین المللي قدم هاي مؤثري را بر داشته که نمیتوان ازین موفقیت ها و تلاشهاي پیگیر شان چشم پوشي نمود ولي کمي و کاستي هاي موجود در همین وزارت را نیز نباید نادیده گذاشت.

گفته میشود که بعد از انتظار زیاد و گذشت بیشتر از یکماه از آغاز سال تعلیمي جدید بالآخره وزارت محترم تحصیلات عالي موفق شد تا نتایج امتحان کانکور سال تعلیمي جدید را اعلان نماید بعد از اعلان نتایج مذکور صاحبان رابطه هاي قوي با اخذ احکام فوق العاده کوشش مي ورزند تا خود ها را از پوهنځي هاي غیر معیاري به پوهنځي هاي معیاري!!! تبدیل نمایند که متأسفانه وزارت محترم نیز طوعاً و کرهاً با آن یکدست گردیده و موازین و معیار هاي اصولي را زیر پا نمایند.

نقیصه دیگر وزارت محترم تدریس یك و یا نیم سمستر در تمام یکسال تحصیلي خصوصاً در مؤسسه طب کابل از چندي بدینسو صورت میگیرد و سمستر بعدي آن به سال دیگر موکول مي شود که این هم در ذات خود تخطي از مقررات و نورمهاي اکادیمیك میباشد مشکلي دیگري که در وزارت محترم تحصیلات عالي وجود دارد آن هم اعطاي چانس هاي غیر اصولي توسط احکام فوق العاده صاحبان روابط محکم این چانسهاي تحصیلي اگر از یکسو مشکل فقط یکنفر تنبل را حل کرده بتواند در عین حال ضربه یي است بر پیکر اصول و مقررات تحصیلي. ما در حالیکه به مسؤولین محترم وزارت تحصیلات عالي موفقیت هاي زیادي را خواهانیم از ایشان توقع داریم تا جلو همچو تخطي ها را گرفته و در راه پیشرفت و موفقیت آینده سازان جامعه و کشور قدمهاي متیني را برداشته تا در نتیجه مسؤولیت اسلامي و اخلاقي را انجام داده و رضاي خداوند بزرگ را کسب نماید.

راغلي لیك

د شریعت اوونیزی اداري ته!

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

د لوی خدای نه مو د خپل دین او هیواد والو د خدمت په ډګر کی لا بریالیتوب غواړم او له همدی مختصر روغبړ نه وروسته هیله من یم زما دا لاندی څو کرښی هو به هو خپری کړی ترڅو د کابل ښاروالی مسؤولین ورته متوجه شی.

لکه چی د کابل ښاریانو ته ملعومه ده د تیرو جګړو په مهال د لار و اوسړکونو حالت بی درکه خراب شوی دی او په زیاترو هغو ځایو کی چی د سړک په خواکی ویالی او مردار لښتی جوړ شوی او پخوایی په منظم ډول سرونه پټ وو، اوس هغه وران شوی او ځای په ځای داسی سوری جوړ دی چی که څوک لاندی ورو غورځیږی نو که له مرګه بچ شی، په مردارو خړو به خامخا ډیر بدرنګ او سخت وکړیږی او بل دا چی په ټول ښار کی د کوڅه ډبه سپیو شمیر بیخی زیات شوی، نو که له یوی خوا د ډول ډول ناروغیو باعث ګرځی له بلی خوا ډیر پکی لیونی شی او لکه چی لیدل کیږی په بیلا بیلو سیمو کی یی ډیر خلک د اړلی او تر مرګه رسیدلی دی او دا چی اوس شپی مخ په لنډیدودی او سپی هم ډیر په نیشه کی دی نو کله چی په نیمه شپه کی غپیدل پیل کړی د ټول بازار او کوڅی خلکو ته غتهه ستونزه جوړوی او خلک له خوبه پاسی نو هیله ده د ښاروالی محترم مسؤولین د عامی روغتیا وزارت په مرسته په دی اړه لازم اقدام وکړی او د کابل ښاریان له دی لویی ستونزی وژغوری.

پاتي د کابل د طب ...

په سړ کال هم د تیرو کلونو په شان ۲۵۰ تنه نوی محلصین جذب کړی شی چی له دی شمیری نه به ۵۰ تنه د معالجوی طب، ۱۰۰ تنه د ماشومانو طب او ۱۰۰ تنه نور به هم د ستوماتولوژی (غاښونو) طب پوهنځیو ته ومنل شی.

ده زیاته کړه: څرنګه چی د تیرو شلو کلونو په جګړو کی زموږ هیواد ته په مادی او معنوی ډول زیات زیانونه رسیدلی د کابل د طب انستیتوت هم چی د ټول هیواد په کچه د ډاکترانو د روزنی یو لوی علمی او اساسی مرکز دی، بی برخی نه دی پاتی شوی د کابل د طب انستیتوت هم په مادی او هم په معنوی ډول سخت ځپل شوی. ددغو بی مانا جګړو له امله زموږ د انستیتوت ودانی، لابراتوارونه او هغه روغتونونه چی د محصلینو د عملی زده کړو او ستاژ لپاره کار ور څخه اخیستل کیده زیاتره په کنډوالو بدل شوی دی. چی ددی انستیتوت د بیا رغونی په برخه کی زیات کار شوی چی په دی ترڅ کی د پتالوژی لابراتوار په بشپړ ډول فعال او ګټی اخیستو ته اماده شوی.

په پای کی د کابل د طب انستیتوت عمومی رئیس محترم الحاج مولوی محمد فاضل داسی وویل: د افغانستان د اسلامی امارت د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کی چی څومره علمی موسسی او پوهنځی جوړ شوی دا د وخت له غوښتنو او ددی وروسته پاتی هیواد لپاره د یوه مبرم ضرورت په اساس را منځته شوی. په تأسف سره باید ووایو هغه محصلین چی په کانکور کی د خپلی خوښی پوهنځی ته بریالی نه شی د لوړو زده کړو وزارت د مقرراتو په اساس د دوی له علمی سویی سره سم نورو پوهنځیو ته ورپیژندل کیږی خو له بده مرغه زیاتره محصلین بیا له یو څو محدودو پوهنځیو پرته له نورو سره دومره دلچسپی نه ښیی. زموږ ګران محصلین باید دی ټکی ته پام وکړی چی هیواد یی له رنګارنګ مشکلاتو سره لاس او ګریوان دی او په بیلا بیلو څانګو کی مسلکی کدرونو او پوهانو ته اړتیا لری باید په هر ډګر کی مسلکی او پوه کدرونه ولرو. ددی لپاره چی ملک مو آباد او سمسور شی او سوکاله ژوند ولرو باید خپلی شخصی ګټی د ملی ارزښتونو په وړاندی قربانی کړو.

پاتي د هلمند ولایت ...

سابقه لری د یو سلو شلو بسترو په لرلو سره د جراحی، داخلی، ستونی او غوږ، ولادی او نسایی، ستر ګو او د ملاریا په څانګو کی فعالیت کوی او د وینو په لابراتوار او اکسریز سمبال دی.

د بست روغتون یوه مسؤل خبرځای د باختر اطلاعاتی آژانس ته وویل هره ورځ شپږ سوه تنه ناروغان د معاینی او تداوی په مقصد د بست روغتون ته مراجعه کوی او په ناروغانو باندی په وړیا ډول د ملاریا د ناروغی د علاج او درملنی درمل او نور درمل ویشل کیږی.

اوس په دی روغتون کی ۹۵ تنه مریضان بستر دی او د نړی روغتیایی سازمان د ملګرو ملتو د سازمان عالی کمشنری او یونیسف د واکسیناسیون او د ملاریا په برخو کی له دغه روغتون سره همکاری کوی.

پاتي له ایران څخه ...

ولایتونو ته ولیږدول شول.

د وو تنو افغانی مهاجرینو د بوی مرکی په ترڅ کی د هرات په ولایت کی د باختر اطلاعاتی آژانس خبریال ته وویل اوس د خوښی احساس کوو چی خپل هیواد ته راستانه شوو ځکه زموږ ګران هیواد چی د کمونستانو او روسانو لخوا ویجاړ شوبدی اوس د اسلامی امارت له برکت څخه په هغه کی داړمنه سوله او ارامی تأمین شوی او زیاتی هیلی موجود دی چی د افغانستان د اسلامی امارت له خوا زموږ د سپیڅلی جهاد ټولی غوښتنی او موخی په بشپړه توګه پلی شی او سراسری سوله تأمین شی چی زموږ ټول هیواد وال چی اوس هم د هجرت او غربت په حالت کی ژوند کوی خپل هیواد ته راستانه شی.

یوی مربوطی سرچینی په دی باب وویل د انصار کمپ چی د روان کال د محرم الحرام د میاشتی په سر کی د افغان مهاجرو د استوګنی په خاطر جوړ شوی د هرات د شمال دګازرګاه د دښتی د سل جریبه ځمکی په ساحه کی موقعیت لری په دغه کمپ کی څلور بلاکونه او دوه سوه شل خیمی شته چی د هغو له جملی نه څلور شپیته خیمی د کورنیو د استوګنی لپاره ځانګړی شوی. په دغه کمپ کی شپږ زره څلور سوه پنځه پنځوس تنه مهاجر ځای پر ځای شوبدی.

خبری ځای زیاته کړه د انصار کمپ چی د هرات ولایت د شهیدانو او مهاجرینو د ریاست د چارواکو د پاملرنی له مخی جوړ شوبدی په هغه کی پنځوس تنه د مهاجرینو د ریاست منسوبین او د خیریه موسسو مأمورین زموږ د راستنیدونکو هیوادوالو په ارزښتناکو خدمتونو بوخت دی له بندر څخه د هرات تر مرکزاو له هرات نه د هغوی تر اړوندو ولایتونو پوری د مهاجرینو کرایه د ای. او. ام موسسی د دفتر لخوا چی د مهاجرینو په چاروکی د ملګرو ملتو د عالی کمشنری په چوکاټ کی کار کوی ورکول کیږی مهاجرینو ته له ثبت او راجستر وروسته شل امریکایی ډالر او یوه بوجی غنم او لازم درمل د نړی د خوراکی سازمان او د ام. دی. اف موسسو له خوا ورکول کیږی.

پاتي پولیسو په لندن ...

منځ نښته هغه وخت پیل شوه چی مظاهره کوونکو د یوه امریکایی رستورانت د شیشو په ماتولو سره په لندن کی د مکدونالد له لوری څخه په هغه باندی د امریکایی سمبول په توګه برید وکړ دغه راز مظاهره کوونکو د لندن په یوه اصلی واټ کی د بلوا ضد پولیسو د ځواکونو په لور د کاڼو او داور لرونکو بوتلونو په ویشتلو سره له پولیسو سره نښته وکړه.

ددغو مظاهرو تنظیموونکو اعلام کړی و چی په دی مظاهرو کی به د پانګوالی له نظام په نړی کی د کار د ځواک له استثمار سره په مخالفت سربیره د طبیعی پانګو له منځه وړلو سره هم مخالفت وکړی.

پاتي د اسلامي امارت د ...

کولو کی د خلکو د ملکیتونو او د هغوی د نورو حقوقو په اړه هیڅ ډول هلو ځلو نه ډډه ونه کړی او په دی لاره کی باید د ستړیا احساس ونه کړی.

پاتي دسمنګانو په ولایت ...

دارالحفاظونه د نهاری او دلیلی په ډول او یو دارالعلوم د لیلی په توګه فعالیت کوی او په لیلیه کی د دوه سوه تنو شاملو طالب العلمانو اعاشه او اباته د اسلامی امارت له خوا تأمینیږی.

په دغو مدرسو کی لس زره دوه سوه اتیا تنه طالب العلمان د علم او پوهی په زده کړه بوخت دی چی د لوست چاری یی د دوه سوه پنځلسو تنو مسلکی او مجربو استاذانو له خوا پر مخ بیول کیږی.

پاتي دوه دیرش تولیدي ...

اقتصاد په وده او پیاوړتیا او د خلکو د اړتیاوو په لری کولو کی د هغو د اغیزمنتوب په باب هر اړخیزی خبری وشوی او په دی اړوند ګټور پیشنهادونه وړاندی شول.

په دی غونډه کی د سلو ملیاردو او سلو ملیونو افغانیو په لومړنی پانګه او د سلو ملیاردو او نهه سوه دوه اویا ملیونو افغانیو په وروستی پانګه د غوریو د تولید او صابون جوړولو، ساختمانی، کنګل جوړونی، کارتن جوړونی، غیر الکولی مشروباتو د تولیدي د زړو د پروسس پلاستیکي مصنوعاتو د نورو لیداتو په ګډون د دوه دیرشو تولیدی او خدماتی پروژو جوړیدل او فعالیت تایید شو چی ددغو پروژو په فعالیدو سره زموږ او څلویښت زره شپږ سوه نولسو تنو هیوادوالو ته د کار او فعالیت زمینه برابریږی.

پاتي دري کلي د ...

کی څرګنده کړه چی د سولی د خبرو په پای کی د فلسطین د خپلواک حکومت تر څنګ ولاړ دی.

له بلی خوا ناکل شوی ده د اسرائیلو صدراعظم یهود بارک د نیت د څرګندولو په خاطر د فلسطین په سیمه کی د عربانو د استوګنی دری کلی چی د اسرائیلو تر اشغال لاندی دی د فلسطین د خپلواکی اداری تر کنټرول لاندی راشی دا کار هم د اسرئیلو د صدراعظم یهود بارک په ائتلافی اداره کی د بحران د پراختیا سبب شوبدی.

پاتي د سودان ولس ...

سودان د مرکزی حکومت پر خلاف له وسله والی جګړی څخه لاس واخلی او د یو اوربند په ټاکلو کی له حکومت سره موافقی ته ورسیږی. تر اوسه پوری دغی جګړی د سودان په جګړه ځپلو خلکو باندی د خوراکی موادو، درملو او د نورو مرستو د ویش مخه نیولی ده.

پاتي قوماندانان مجاهدین

والي غور در رابطه به اهداف و برنامه هاي امارت اسلامي صحبت نموده بعداً محترم مولوي عبدالرشید محترم قوماندان مولاداد، محترم قوماندان نجم الدین و محترم ملا عبدالقدیر به نماینده گي از اهالي قراي دهیله، جرشعر و بندر خوتر که در حومه مرکز چغچران قرار دارند صحبت نموده از همکاري هاي بي شابیه شان در جهت تأمین هرچه بیشتر صلح و امنیت و بازسازي محلات مربوط وعده سپردند در این میان به تعداد چهل تن از افراد قوماندانان متذکره ضمن آماده شدن به خطوط مقدم جبهه به صفوف نیرو هاي امارت اسلامي تنظیم گردیدند.

پاتي مسعود محافظین ...

نشست مذکور را به شدت رد نموده وگفته است تا زمانیکه مسعود دوستم و مالك تمامي اختیارات و امکانات گروه هاي شان را در اختیار وي نگذارند با آنها هیچنوع مذاکره نخواهد کرد.

تا گفته نباید گذاشت که اهالي مناطق تحت تسلط ملیشه امیدوار هستند که خیلي زود قوت هاي ملیشه اي بدست مجاهدین امارت اسلامي مضمحل گردیده و آنها از شر ملیشه هاي مفسد نجات خواهند یافت.

پاتي کشورهای زره...

متحده امریکا بعد از سال ١٩٤٠ یکي از جزایر پورتیریکو را به عنوان محل تمرینات نظامي به خود اختصاص داده است. سال گذشته میلادي در جریان تمرینات نظامي کشتي هاي جنگي ایالات متحده امریکا در منطقه مذکور یك تن غیر نظامي پورتیریکو کشته شد و براي یکسال تمرینات نظامي صورت نگرفت. حضور مجدد نظامیان ایالات متحده امریکا در جزیره مذکور بخاطر انجام تمرینات نظامي بار دیگر خشم مردم آن جزیره را برانگیخته است.

دولت ایالات متحده امریکا بخاطر مقابله به اعتراضات مردم اقدام به لشکر کشي و اعزام کشتي هاي جنگي بیشتر به آبهاي ساحلي جزیره مذکور کرده است.

پاتي وزیر دفاع ایران ...

منطقه دانست وزیر دفاع ایران نیز ملاقات با رهبران عربستان سعودي را در ایجاد اعتماد بین دو طرف مؤثر دانست و ابراز امیدواري کرد روابط رو به توسعه دو کشور نمونه براي سایر کشور هاي اسلامي گردد.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirat Printing Press

د شریعت اوونیزی خبرتیا

د شریعت اوونیزه په روان ١٤٢١ هـ ق کال کی د خپلو اداری کارونو د پرمختګ لپاره دوو تنو اداری کارکوونکو او دوو تنو خبریالانو ته ضرورت لری هر څوک چی په پورتنیو دندو کی د تقرر نیت و لری په لاندی آدرس دی مراجعه وکړی:
دوهم مکروریان، امارتی مطبعه، دوهم پوړ، د شریعت اوونیزی اداره

د ګوون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150